# د پورولو قاعدي

## د کتابتون کارت

- که تاسو غواړئ چې د کتابتون څخه کتابونه په پور واخلئ نو تاسې باید له ځان سره د کتابتون کارت خامخا ولرئ او دا کارت په ټولو کتابتونونو کې د اعتبار وړ دی.
- د بورس په ښار کې د کتابتونو څخه د پورولو او د پیسو د راکړې ورکړې چارې او مقررات د ښار په ټولو کتابتونونو کې په یو ډول دي.
- د کتابتون کارت د اول ځل لپاره په وړیا توګه ورکول کیږي
- که تاسوغواړئ چې نوی کارت ترلاسه کړئ نو لوېانو ته د کارت ارزښت ۲۰ کرونه او هغه چا ته چې عمر یې د ۱۸ کالو نه کښته وي ۱۰ کرونه ټاکل شوی دی.
- کله چې تاسو د کتابتون د کارت غوښتنه کوئ نو خامخا خپل پیژند پاڼه څکاره کړئ
- هغه تنکي ځوانان چې عمر یې د ۱۸ کالو څخه ټیټ وي د کورنۍ مشر باید د هغوئ اروند کارت لاسلیک وکړي
- د کتابتون کارت یوازې یو کس پورې اړه لري نو باید ډیر په ارزښتمند ډول دی وساتل شي
- د کارت د ورکیدلو په صورت کې باید د کتابتون اداري ته سمدستي خبر ورکړل شي

### پورکونکي په لاندني ډول مکلف دي چې:

- کتابونه او نورې لیکنې باید په وړیا او ښه توګه وساتل شي
- کتابونه او نور پور شوې لیکنې او څېرونې باید پر خپل ټاکلي وخت بیرته راوړل شي
- هغه د کمون د کلتوري کمیټي تصویب شوې مبلغ او د کتابونو او نورو لیکونو د ځنډېدو جریمه دې پر خپل وخت ورکړل شي
- د کتابونو او یا د نورو څېرونو د ضرر رسېدو او یا ورکیدلو په صورت کې کوم مبلغ چې د کتابتون لخوا ټاکل شوی دي پر خپل وخت ورکړل شي
- د کتابتون کارت باید تل د ځانه سره وساتل شي او د غوښتلو پر مهال دې وښودل شي
- د خپل نوم او پته د اړولو په صورت کې باید ژرتر ژره خبر ورکړل شي
- د څېرونو مسئولیت ترهغه وخته پورې پر غاړه لري ترسو چې هغه د ثبت یا (راجستر) څخه ایستل کیږي

### د پورولو موده:

- د پور اخیستلو موده څلور اونۍ ده او د هغې وروسته څخه پیل کیږي چې ستاسو کتابونه پور کړي
- ځنې کتابونه ، سی ډي پاڼې او د لوبو سی ډي کیدای شي چې تر ۷ ورځو پورې ورکړل شي
- د لوبو د فلمونو ډي وي ډي د پورولو موده ۷ ورځې ده
- ډي وي ډي فلمونه هغه چا ته په پور ورکول کیږي چې عمر یې ۱۵ کالو ته رسېدلی وي

### کله چې ستاسې د پور اخیستلو وخت پای ته ورسیږي او پور بیرته مسترد نه کړئ نو دغه حالت رامینځ ته کیږي:

- د پور وخت د ځنډیدو په صورت کې د جریمې د مبلغ محاسبه پیل کیږي.
- کله چې د ځنډ موده د لس ورځو ته ورسیږي تاسې ته د یادونې یو لیک درلیږل کیږي
- ۱۴ ورځو د یادونې تر لیک وروسته تاسې د هغه پور شوې شي د ارزښت او قیمت مطابق باید جریمه ورکړئ
- تر ۲۰ ورځو د ځنډ وروسته بیه مسئله د پورونو د اصول او غوښتنې اداري یا ( اینکاسو) ته وړاندې کیږي
- په هغه صورت کې چې تاسې د پورونو د اصول او د غوښتنې د اداري د پریکړو د شرایطو مراعت ونه کړئ نو بیه تر هغه وخت پورې چې تاسې جریمه ورکړئ نه وي ستاسو د پور غوښتنې حق له مینځه ځي
- تاسو باید متوجه اوسیږئ چې هر څومره ژر تاسو خپل پور ورکړئ نو ستاسو حساب ژر تصفیه کیږي
- تاسې باید د ځنډ د وخت جریمه تل د پورونو د اصول او غوښتنې د اداري د پریکړو د شرائطو او احتمالي قیمت ټاکنې پراسل او د جریمې د فکتوره یا ټاکلي مبلغ تحویل کړئ.